

# د هغو خلکو لپاره معلومات چې
# په کروشیا جمهوریت
# کې د نړیوالې خوندیتوب/پناه
# غوښتونکي وي

PASHTO



## کروشیا ماته د څه ډول نړیوال خوندیتوب/پناه وړاندیز کولی شي؟

که چېرې تاسو په کروشیا کې یاست او له دې امله خوندیتوب ته اړتیا لرئ چې په خپله هیواد کې ځورول شوي یاست یا له ځورول کېدو ویره لرئ، نو ښايي چې تاسو ته پناه درکړل شي. په دې کې په یو ځانګړي توکم، دین، قبیلې یا ټولنیزې ډلې پورې اړه لرل شامل دي (د بېلګې په ډول، له دې امله چې LGBTQI+، معلولیت لرونکی کس، د انساني قاچاق قرباني او داسې نور یاست) یا داچې د یو ځانګړې سیاسي نظریې درلودونکي یاست. که چېرې تاسو د پناه شرطونه نه پوره کوئ، تاسو ته به بیا هم «فرعي خوندیتوب» درکړل شي، په هغه صورت کې چې تاسو د مرګ سزا، اعدام، ځورولو، غیر انساني یا د سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو له امله خپل هیواد ته نشئ ستنېدلی یا داچې د وسله والې جګړې د یوې برخې په توګه د پراخ تاوتریخوالي له امله ستاسو ژوند ته جدي خطر وي.



**ستاسو په هیواد کې کمزوریاقتصادي وضعیت یا بیکاري د نړیوال خوندیتوب د ترلاسه کولو لاملونه ندي.**



## زه باید ترټولو لومړی څه وکړم؟ چارواکو ته د نړیوال خوندیتوب غوښتلو په اړه خپله اراده څرګنده کړئ.

- کروشیا ته له ننوتلو وروسته سمدلاسه یا ژر تر ژره د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ. د بېلګې په ډول، دا کار پر پوله، د پولیسو مرکز یا د پولیسو هغه چارواکي سره چې په لومړي ځل یې تاسو وینئ یا که چېرې تاسو بندي شوي یاست، نو «د بهرنیو وګړو د ترلاسه کولو مرکز» کې ترسره کېدلی شي.
- که چېرې تاسو په غیر منظم ډول د کرویشیا پولې څخه تیریدو یا په غیر منظم ډول په کروشیا کې اوسېدو پرمهال ودرول/نیول شوي یاست، نو تاسو کولی شئ د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ.
- له پولیسو سره په هر ډول مرکه کې تاسو د یو ژباړن درلودلو حق لرئ چې ښایي حضوري یا د ټلیفون له لارې شتون ولري: بې له کوم فکره د ژباړن غوښتنه وکړئ.
- په واضح ډول وواياست چې تاسو خوندیتوب ته اړتیا لرئ، تاسو خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو څخه ویره لرئ او دا چې تاسو په خپل هیواد کې ځورول شوي یا ستاسو ژوند په خطر کې دی. تاسو همدارنګه کولی شئ دا ولیکئ، کاغذ لاسلیک کړئ او د پولیسو مامور ته یې وسپارئ. تاسو دا کار په هره ژبه کې ترسره کولی شئ.
- که چېرې تاسو له ۱۸ کلنۍ څخه کم عمر لرئ او یواځې کروشیا ته راغلي یاست، مونږ له تاسو غواړو چې سمدلاسه د پولیسو یو مامور (که چېرې تاسو پر پوله یا د پولیسو په یو مرکز کې یاست) یا کوم بل چارواکي (د بېلګې په ډول، که چېرې تاسو د توقیف په یو مرکز کې یاست، ستاسو «پلټونکی» یا د قضیې کارکوونکی) ته خبر ورکړئ، تر څو له تاسو د ملاتړ لپاره یو ځانګړی سرپرست وټاکل شي. ستاسو ځانګړی سرپرست به د هر ډول اداري کړنلارو پرمهال ستاسو د حقونو ساتنه وکړي.
- که تاسو کروشیا ته له جعلي اسنادو یا د بل چا له اسنادو سره راغلي یاست، نو په ښکاره ډول وواياست او تشریح کړئ چې ولې. دا د نړیوال خوندیتوب د ترلاسه کولو لپاره خنډ نه دی. که چېرې تاسو خپل اسناد له ځان سره لرئ، نو ویې ښایاست.

- که چېرې تاسو محکمې ته واستول شئ، نو وواياست چې تاسو د خونديتوب په لټه کې ياست او غوښتنه وکړئ چې دا د محکمې په سوابقو کې ثبت شي.

- وروسته له دې چې تاسو وواياست خونديتوب ته اړتيا لرئ، نو که چېرې ١٤ کاله يا له دې پورته عمر ولرئ، ستاسو د ګوتو نښې او انځور به واخيستل شي. يو ضرب الاجل به وټاکل شي، په کوم کې چې تاسو بايد د نړيوال خونديتوب لپاره د غوښتونکو لپاره د استوګنې مرکز ته راپور ورکړئ. دا اوسمهال په Zagreb (چې اکثره د «Porin» په نوم يادېږي) او Kutina کې موقعيت لري.

- که چېرې تاسو په Tovarnik، Ježevo يا Trilj کې د توقيف په يو مرکز کې د خونديتوب غوښتنه کوئ، نو له خپل «پلټونکي» سره اړيکه ونيسئ. د پورته په څېر، تاسو همدارنګه کولی شئ چې په ليکلې بڼه يادونه وکړئ چې تاسو د خونديتوب غوښتنه کوئ او دا کار په هره ژبه کې ترسره کېدلی شي.

- د پوليسو يو مامور بايد تاسو ته د نړيوال خونديتوب کړنلارې په اړه ليکلي معلومات درکړي. که چېرې دا روښانه نه وي، نو تاسو کولی شئ چې پوښتنې وکړئ يا له داسې يو سازمان سره اړيکه ونيسئ چې نړيوال خونديتوب ته اړتيا لرونکو وګړو ته د مرستې لپاره چې د پناه غوښتونکو په نامه هم يادېږي، ځانګړې شوې وي. د هغوی د اړيکې نيولو معلومات ددې سند په پای کې شتون لري.

## بيا څه کېږي؟ تاسو د نړيوال خونديتوب لپاره يو غوښتنليک بشپړوئ.

- وروسته له دې چې د نړيوال خونديتوب غوښتونکو لپاره د استوګنې په يوه مرکز کې ځای پرځای شئ، تاسو ته به د ژباړونکي په شتون کې د کروشيا د کورنيو چارو وزارت (‹MUP›) په کروشيايي کې) له يوه چارواکي سره د مرکې لپاره بلنه درکړل شي. ددې لومړۍ مرکې پرمهال، د نړيوال خونديتوب لپاره ستاسو غوښتنليک ثبتېږي. تاسو خپله غوښتنه په شفاهي ډول سپارئ: يوازې په اتثنايي حالاتو کې دا چاره په ليکلې بڼه ترسره کېدلی شي.

- له دې ځخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې تاسو د خپل غوښتنلیک د جزئیاتو شریکولو پرمهال آرامه یاست، که چېرې امکان ولري، نو چارواکی او ژباړن به له تاسو سره د ورته جنسیت څخه وي. که چېرې دا امکان ونلري، مګر ستاسو لپاره مهم وي، نو تاسو کولی شئ چې خپله اندیښنه له وزارت سره شریکه کړئ.
- د کورنیو چارو وزارت چارواکی به له تاسو څخه وغواړي چې شخصي معلومات وړاندې کړئ؛ د هغې لارې وضاحت ورکړئ چې په وسیله یې تاسو کروشیا ته ورسېدئ او هغه لاملونه تشریح کړئ چې له امله یې تاسو د پناه په لټه کې یاست. که چېرې له پوښتنو څخه کومه یوه یې روښانه نه وي، نو تاسو باید له هغه چارواکي څخه د پوښتنې روښانتیا وپوښتئ چې له تاسو سره مرکه کوي.
- دا مهمه ده چې تاسو صحیح شخصي معلومات ورکړئ او هر څومره چې په ښه ډول کولی شئ هغه لاملونه تشریح کړئ چې ستاسو د هیواد پرېښودو او په کروشیا کې د خوندیتوب غوښتنې کولو لامل شو. د ناسمو او غیر کره معلوماتو ورکړه ستاسو د غوښتنلیک د ردېدلو لامل کېدلی شي.
- د هغو ټولو مهمو اسنادو یادونه وکړئ چې تاسو یې له ځان سره لرئ. که چېرې تاسو له ځان سره کوم اسناد نلرئ، نو تشریح کړئ چې ولې. دا باید ستاسو په غوښتنلیک باندې اغېزه ونه لري، ځکه چې ډېری خلک د تیښتې پرمهال خپل اسناد پرېږدي.
- که چېرې د ځورولو له ویرې سربېره نور داسې لاملونه شتون ولري چې ښيي تاسو نشئ کولی بیرته خپل هیواد ته لاړ شئ، نو دا لاملونه هم د مرکې پر مهال ذکر کړئ.
- د خپل غوښتنلیک له سپارلو څخه وروسته، د کورنیو چارو وزارت به تایید کړي چې آیا د دوبلین د قانون له مخې کروشیا ستاسو د غوښتنلیک په اړه د پرېکړې مسئولیت لري که نه.
- که چېرې تایید شي چې کروشیا ستاسو د قضیې مسئولیت لري، نو تاسو باید د پرېکړې لپاره تر ٦ میاشتو پورې انتظار وکړئ، چې دا موده له هغه نېټې څخه حسابېږي چې کله دا تایید شي چې کروشیا ستاسو د قضیې لپاره مسئول هیواد دی.
- که چېرې پرېکړه په شپږو میاشتو کې نشي کېدلی، نو تاسو ته به د غځېدلې مودې په اړه خبر درکړل شي چې په هغې کې تاسو د یوې پرېکړې ترلاسه کولو تمه کولی شئ. د کروشیا او اروپایي اتحادیې د قانون له مخې د پرېکړې کولو اعظمي موده ۲۱ میاشتې ده.
- پرېکړه ښایي مثبته (چې تاسو ته پناه یا فرعي خوندیتوب درکوي) یا منفي (د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو غوښتنه ختموي یا ردوي) وي.

## د دوبلین کړنلاره څه ده؟ دا هغه اروپایی هیواد په ګوته کوي چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه د پریکړې کولو مسؤلیت لري.

په ځینو حالتونو کې، په اروپایي اتحادیه کې بل هیواد یا آیسلینډ، لیچنسټین، ناروې یا سویس به د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو د غوښتنلیک د ارزولو مسئولیت په غاړه ولري، نه کروشیا:

- که تاسو یو بې سرپرسته ماشوم یاست او د کورنۍ داسې غړی لرئ (د بیلګې په توګه ولي، ورور/خور، کاکا/ترور، نیکه/انا) چې له پورتنیو هیوادونو څخه په کوم یو کې ژوند کوي؛
- که تاسو بالغ یاست او د کورنۍ داسې غړی لرئ (د بیلګې په توګه میړه/ښځه او په ځینو هیوادونو کې، د ژوند ملګری یا کوچني مجرد ماشومان) چې له پورتنیو هیوادونو څخه په کوم یو کې ژوند کوي، په دې شرط چې د خپل اصلي هیواد د پرېښودو پرمهال هغوی لا له مخکې ستاسو د کورنۍ غړي وي؛
- که تاسو له پورتنیو هیوادونو څخه صادره شوې د کار اجازه یا ویزه لرئ؛
- که چېرې تاسو له مخکې په پورتنیو هیوادونو کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې وي (دا په هغه وخت کې معلومېدی شي چې له تاسو د ګوتو نښې اخیستل شوې وي).
- که تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنه نه وي کړې مګر د پورتنیو هیوادونو څخه یو ته په غیر منظم ډول سفر کولو پرمهال له تاسو د ګوتو نښان اخیستل شوی وي،
- که چیرې داسې نور شواهد شتون ولري چې تاسو له دې هیوادونو څخه په یو کې ژوند یا د هغې له لارې سفر کړی وي، حتی که له تاسو د ګوتو نښان هم نه وي اخیستل شوی.

که دا ثابته شي چې کروشیا ستاسو د غوښتنلیک مسؤله نده، یو لیکلی پریکړه به صادر شي او تاسو به هغه هیواد ته ولیږدول شئ چې مسئول پیژندل شوی. دا کړنلاره ښایي یو څه وخت ونیسي: د مهربانۍ له مخې صبر ولرئ.



**که چیرې د اروپایي اتحادیې په بل غړي هیواد کې د کورنۍ غړی لرئ، تاسو کولی شئ د کورنۍ الحاق/یوځای کېدنې غوښتنه وکړئ. کورنۍ الحاق ښايي یو څه وخت ونیسي: د مهربانۍ له مخې صبر ولرئ.**

## زما د غوښتنلیک له مرکې څخه وروسته څه کېږي؟ یوه دویمه مرکه به ترسره او په اړه به یې پرېکړه وشي.

- که چېرې معلومه شي چې کروشیا ستاسو د غوښتنلیک مسئولیت لري، د دوبلین د قوانینو له مخې چې پورته روښانه شو، تاسو ته به یوې مهمې مرکې ته بلنه درکړل شي.
- بیا ځلې د یو ژباړن په شتون کې به د «MUP» یو بل چارواکی په تفصیلي ډول ستاسو کیسه واوري.
- له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې تاسو د مرکې پرمهال آرامه یاست، که چېرې امکان ولري، نو چارواکی او ژباړن به له تاسو سره د ورته جنسیت څخه وي. که چېرې دا امکان ونلري، مګر ستاسو لپاره مهم وي، نو تاسو کولی شئ چې خپله اندیښنه له وزارت سره شریکه کړئ.
- تاسو باید په دې مرکه کې په حضوري ډول ګډون وکړئ، پرته له دې چې تاسو قانوني استازی لرئ یا نه.
- که چېرې تاسو قانوني استازی لرئ، نو هغه هم باید په مرکه کې ګډون وکړي.
- مرکه ښايي څو ساعته وخت ونیسي.
- ښايي ستاسو بیانونه د غږیز/انځوریزو وسیلو په وسیله ثبت شي. تاسو ته به ددې په اړه له مخکې خبر درکړل شي.
- ځینو غوښتونکو ته ښايي د یوې اضافي، دریمې مرکې بلنه ورکړل شي.



## زه باید د مرکې په اړه په څه پوه شم؟ تاسو باید ټول مهم جزئیات وړاندې او ربښتیا ووایاست.

- د مرکې په پیل کې، چارواکی به تاسو ته د مرکې کړنلاره تشریح کړي.
- چارواکی به په دې اړه پوښتنې وکړي چې ستاسو په هیواد کې څه پیښ شول یا څه پیښېږي او د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو د غوښتنې د یوې برخې په توګه به د لومړۍ مرکې پرمهال ستاسو له لوري د ورکړل شوو معلوماتو په اړه د نور وضاحت غوښتنه وکړي.
- ددې په ګډون چې ولې تاسو خپل هیواد پرېښود، تاسو څه ډول څورول شوي واست او د چا له لوري، تاسو باید هر هغه څه بیان کړئ چې ستاسو د غوښتنلیک لپاره مهم او د هغې اړوند وي.
- هر هغه څه چې تاسو شریکوئ، ستاسو د شخصي معلوماتو په ګډون، محرم ساتل کېږي. دا معلومات به ستاسو د اصلي هیواد د چارواکو په ګډون له هیچا سره نه شریکېږي.
- که چېرې ځینې جزئیات ستاسو په یاد نه وي، د بېلګې په توګه ځینې نېټې یا ځایونه، نو اندیښنه مه کوئ. ربښتیا ووایاست او ناسم معلومات مه ورکوئ. کومه خبره نده که چېرې تاسو تشریح کړئ چې ستاسو په یاد نه دي یا دا چې تاسو باوري نه یاست.
- که چېرې تاسو کولی شئ، مرکې ته هر هغه سند له ځان سره راوړئ چې ددې په بیانولو کې مرسته کوي چې تاسو په خپل هیواد کې څورول شوي یا ویربدلي واست او ددې اسنادو کاپي له مخکې څخه چمتو کړئ. د بیلګې په توګه، د پولیسو احضارونې، قضاوتونه، ګواښ لیکونه، د توقیف سند، طبي سندونه، د ورځپاڼو ټوټې، انځورونه او نور.
- که چېرې تاسو داسې اسناد نلرئ چې ستاسو هویت ثابتوي یا که چېرې د خپل سفر پرمهال تاسو د بل چا له اسنادو څخه ګټه اخیستې وي، نو واضح یې کړئ چې ولې. چارواکی به هغه ټول اسناد وګوري چې تاسو یې له ځان سره لرئ.
- که چېرې داسې څه شتون ولري چې تاسو پرې نه پوهېږئ، نو د لا نورې روښانتیا غوښتنه یې وکړئ.
- که چېرې تاسو د سټړیا یا احساساتي کېدلو احساس کوئ، نو د مرکې پرمهال د لنډې مودې لپاره د وقفې غوښتنه وکړئ.
- ښایي له تاسو څخه داسې پوښتنې وشي چې ستاسو لپاره ستونزمنې وي یا په ځواب ویلو یې شرمېږئ. تاسو کولی شئ چارواکي ته ووایاست چې تاسو یې په ځواب ویلو کې راحته نه یاست، مګر په یاد

ولرئ چې دې ډول پوښتنو ته ځواب ویل ښایي له چاراواکي سره مرسته وکړي چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه یوې پرېکړې ته ورسېږي. ټول معلومات محرم ساتل کېږي.

- ددې لپاره چې هغه نښې وکتل شي چې ښايي په تېر وخت کې د ځورولو یا جدي زیان رسونې ښکارندوی وي، ستاسو په اجازې سره طبي ارزونې هم ترسره کېدلی شي.
- که چېرې ددې امکان نه وي چې ستاسو هویت یا اصلي هیواد معلوم شي، نو ښایي له تاسو څخه پلټنه وشي چې په هغې کې به ستاسو د موبایل یا کمپیوټر کتل شامل وي.
- په پای کې به چاراواکی د ژباړن په مرسته له مرکې څخه اخیستې یاددښتونه بیرته تاسو ته ولولي. که تاسو ولیدل چې یو څه په سمه توګه ندي لیکل شوي یا له حساب څخه لرې شوي، سمدلاسه یې په اړه چاراواکي ته وواياست او هغه به دا سم کړي. بیا به له تاسو څخه وغوښتل چې د مرکې په یاددښتونو باندې لاسلیک وکړئ. کله چې تاسو دا لاسلیک کړئ، نو داسې به په نظر کې ونیول شي چې د هغه څه په سمه توګه نمایندګي کوي چې تاسو په مرکه کې ویلي وي.
- که چېرې تاسو فکر کوئ چې ژباړن هغه څه په سمه توګه نه ژباړي چې تاسو یې واياست یا له هغه طریقې څخه راضي نه یاست چې چاراواکی د هغې په وسیله مرکه ترسره کوي، نو خپله اندیښنه څرګنده کړئ، ددې په ګډون چې که چېرې غواړئ د بل ژباړن یا چاراواکي غوښتنه وکړئ. دا امکان باید له لامل پرته ونه کارول شي.
- که چېرې تاسو ناروغ یاست یا که چېرې تاسو د بل معقول لامل له امله په مرکه کې برخه نشئ اخیستی، نو هماغه ډول چې ستاسو د مرکې په بلنلیک کې ذکر شوي، تاسو باید سمدلاسه خپل ټاکل شوي «MUP» چاراواکي ته خبر ورکړئ. که تاسو د مرکې له لومړني ټاکل شوي وخت څخه په ۲ تقویمي ورځو کې خپله غیر حاضري توجیه نه کړئ، نو کړنلاره به لغوه شي، پدې معنی چې تاسو به ټول هغه حقونه له لاسه ورکړئ چې تاسو یې د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي په توګه لرئ.



**دا مهمه ده چې تاسو رښتیا وواياست، په خپل بیان کې هر ډول تناقض روښانه کړئ او په تفصیل سره د خپل وړتیا سره سم تشریح کړئ چې تاسو ولې خپل هیواد پریښود.**

# آیا زه د قانوني مرستې حق لرم؟ هو.

- کله چې تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتلو لپاره خپله اراده څرګنده کړئ، حاضر چارواکی مسئولیت لري چې د کړنلارې په اړه معلومات ورکړي. تاسو ته به ستاسو د لومړۍ مرکې په جریان کې نور مفصل معلومات هم درکړل شي، په کوم کې چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارل کېږي.
- ټول غوښتونکي حق لري چې د خپلې قضیې په اړه قانوني معلومات ترلاسه کړي، د بېلګې په توګه داچې قضیه ترکومه ځایه رسېدلې. تاسو کولی شئ چې ددې په اړه د کړنلارې په هره برخه کې د «MUP» له چارواکي څخه غوښتنه وکړئ.
- همدارنګه تاسو کولی شئ د خپلو پیسو په کارولو سره د کړنلارې په هره برخه کې یو وکیل په قضیه کې دخیل کړئ.
- ښایي ستاسو غوښتنلیک ومنل شي، رد شي یا پای ته ورسول شي. که ستاسو غوښتنلیک رد شي، تاسو د اداري محکمې په وړاندې د استیناف مسودې لپاره وړیا قانوني مرستې مستحق یاست. که ستاسو غوښتنلیک رد شي، تاسو ممکن د وړیا قانوني مرستې مستحق و اوسئ. کله چې تاسو ته پرېکړه واورول شي، د MUP یو چارواکی به تاسو ته ستاسو د حقونو په اړه معلومات درکړي.
- ستاسو د غوښتنلیک په اړه د هر ډول منفي پرېکړې سره یو ځای به د هغو وکیلانو یو لیست له تاسو سره شریک شي چې دا وړیا قانوني مرسته چمتو کوي.
- د دولت له لوري تمویلېدونکي ملاتړ سربېره، غیر دولتي سازمانونه (NGOs) شتون لري چې د کړنلارې پرمهال قانوني معلومات یا مشورې وړاندې کولی شي، د بېلګې په ډول د کروشیا قانوني مرکز (Hrvatski pravni centar) چې د اړیکې نیولو معلومات یې لاندې ذکر شوي.



## د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک په اړه پرېکړې ته د انتظار کولو پرمهال، آیا زه کوم نور حقونه یا مسئولیتونه لرم؟ هو.

- که چېرې تاسو شدید ناروغه یاست، نو تاسو د طبي مرستې حق لرئ. کوچنیان د لومړنیو او ثانوي زده کړو حق لري. تاسو حق لرئ چې خپلې دیني چارې ترسره کړئ، په دې شرط چې د نورو خلکو د ارامۍ خنډ ونه ګرځئ.
- که چېرې د کورنیو چارو وزارت په دې موده کې ستاسو د غوښتنلیک په اړه پریکړه نه وي کړې، تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک د سپارلو څخه درې میاشتې وروسته د کار کولو حق ترلاسه کوئ. دا یوازې هغه وخت پلي کیږي چې په پریکړې کولو کې خنډ ستاسو چلند ته منسوب نشي.
- تاسو د کروشیا په خاوره کې د تګ راتګ د ازادۍ حق لرئ.
- تاسو باید په دوو ورځو کې د پتې د هر ډول بدلون په اړه چارواکو ته خبر ورکړئ.
- تاسو باید د کروشیا قوانینو او همدارنګه د استوګنې مرکز د استوګنې قوانینو پیروي وکړئ او تاسو باید له چارواکو سره همکاري وکړئ.



**له چارواکي څخه غوښتنه وکړئ چې تاسو ته ددې حقونو په اړه تفصیلي معلومات درکړي.**

## د خپل غوښتنلیک په اړه پرېکړې ته د انتظار کولو پرمهال به زه چېرته ژوند کوم؟ د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو د استوګنې په یو مرکز کې.

- تاسو ته به د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو د استوګنې په یو مرکز کې وړیا استوګنه او همدارنګه په ورځ کې درې خلې خواړه، د شخصي حفظ الصحې توکي او لږه اندازه پیسې درکول کېږي. که چېرې اړتیا وي، تاسو کولی شئ چې خپلې او جامې هم ترلاسه کړئ. ورته دوه مرکزونه

شتون لري چې په Zagreb (چې اکثره د «Porin» په نوم يادېږي) او Kutina کې موقعيت لري.

- د استوګنې په مرکز کې، تاسو کولی شئ له ورته جنس لرونکو کسانو سره په يوه خونه کې و اوسئ. که چېرې تاسو له خپلې کورنۍ سره راغلي ياست، نو تاسو ته په يو ځای کې استوګنه درکړل شي.
- تاسو بايد نورو خلکو ته درناوی وکړئ او د کور قوانينو او لارښوونو پيروي وکړئ چې تاسو ته د استوګنې په مرکز کې درکول کېږي.
- د ماښام په ساعتونو کې چې د «کور قوانين» لخوا ټاکل شوي، تاسو بايد د استوګنې په مرکز کې پاتې شئ، مګر دا چې د MUP چارواکي ستاسو غير حاضري تاييد کړي.
- که چېرې غواړئ چې د استوګنې له مرکز څخه ووځئ، نو تاسو بايد د «MUP» چارواکي ته خبر ورکړئ.
- که چېرې تاسو پيسې لرئ، نو تاسو بايد د استوګنې په مرکز کې د خپلې استوګنې لګښتونه ورکړئ يا د استوګنې له مرکز څخه د باندې په شخصي استوګنځي کې د اوسېدلو لپاره له چارواکي څخه اجازه واخلئ.
- که چېرې په شخصي استوګنځي کې اوسېږئ، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو کولی شئ په دې پته له «MUP» څخه اړيکې او پستي ليکونه ترلاسه کړئ (خپل نوم او تخلص د دروازې په زنګ او پستي بکس باندې وليکئ). که چېرې تاسو نشئ کولی چې له چارواکو څخه رسمي خبرپاڼې ترلاسه کړئ، نو داسې به وګڼل شي چې تاسو له کروشيا څخه وتلي ياست او ښايي د نړيوال خونديتوب لپاره ستاسو غوښتنليک وتړل شي.



**د نړيوال خونديتوب د يو غوښتونکي په توګه، تاسو حق لرئ چې د کروشيا په خاوره کې ژوند او په آزاد ډول سفر وکړئ. مګر که چېرې تاسو د استوګنې په مرکز کې ژوند کوئ، تاسو بايد د هغې د "کور قوانين" رعايت کړئ. د نړيوال خونديتوب د کړنلارې پرمهال له کروشيا څخه مه وځئ ځکه چې ستاسو په سفر کولو باندې د بنديزونو په شمول تاسو باندې بنديز لګېدلی شي.**

## ولې زه د بهرنيو وګړو لپاره د استوګنې په مرکز کې ساتل کېږم؟ څکه چېرې داسې يوه پرېکړه صادره شوې چې ستاسو سفر کول محدودوي.

- ډېرى لاملونه شتون لري چې له امله يې ښايي تاسو په Ježevo، Tovarnik يا Trilj کې ساتل کېږئ.
- د کروشيا قانون اجازه ورکوي چې د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتونکي په ځينو حالتونو کې توقيف شي،چې په هغې کې لاندې حالتونه شامل دي.
- هغه غوښتونکي چې د نړيوال خونديتوب غوښتنه کوي وروسته له دې چې دوی د کروشيا څخه د اخراج پروسې په جريان کې توقيف شوي ښايي د نړيوال خونديتوب پروسې په جريان کې په توقيف کې پاتې شي.
- د کروشيا چارواکي په هغه وخت کې هم د يو غوښتونکي د توقيف پرېکړه کولی شي که چېرې باور ولري چې د هغوی د تېښتې (په غير منظم ډول د کروشيا څخه د وتلو) خطر شتون لري، د بېلګې په توګه که چېرې د نړيوال خونديتوب پروسې له بشپړولو څخه مخکې نوموړي کس په تېر وخت کې په تکرار سره دا ډول هڅې کړې وي.
- غوښتنليک ورکوونکي ښايي په هغه صورت کې هم توقيف شي که چېرې دا ستاسو د هويت يا تابعيت، يا کوم بل حقايق او شرايطو په اړه چې ستاسو غوښتنليک پر بنسټ ولاړ وي، د اړتيا وړ وګڼل شي.
- غوښتنليک ورکوونکي ښايي د ملي امنيت او عامه نظم د ساتنې په خاطر؛ د ساري ناروغيو د خپريدو د مخنيوي لپاره، يا د ژوند او ملکيت د خطر د مخنيوي لپاره توقيف شي.
- تاسو حق لرئ چې په وړيا توګه اداري محکمې ته د استيناف غوښتنه وکړئ، ترڅو محکمه وګوري چې آيا ستاسو د توقيف پرېکړه د کروشيا د قانون له مخې د توجيه وړ ده که نه. هغه چارواکی چې تاسو ته د توقيف د پرېکړې په اړه خبر درکوي، تاسو ته به د هغو وکيلانو يو ليست هم درکړي چې په هر ډول ورته ننګونه کې کولی شي په وړيا ډول په محکمه کې ستاسو وکالت وکړي.

**تاسو کولی شئ د "MUP" له هغه چارواکي څخه د د توقیف د لاملونو د پوره وضاحت غوښتنه وکړئ چې تاسو ته د توقیف په اړه خبر درکوي. دا د نورو هغو ګامونو په صورت کې هم د پلي کېدو وړ دی چې ستاسو د سفر کول محدودوي چې ښايي په تاسو پلي شوي وي. تاسو حق لرئ چې د خپل توقیف یا د سفر د آزادۍ د محدودیت په اړه د رسمي پریکړې یوه کاپي ترلاسه کړئ، او د اداري محکمې په وړاندې د دې پریکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ.**

## که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک په اړه منفي پرېکړه ترلاسه کړم، نو څه پیښېږي؟ تاسو کولی شئ چې د استیناف غوښتنه وکړئ.

- هر ډول منفي پریکړه به د هغه مهال ویش په اړه لارښوونې ولري چې تاسو کولی شئ د اداري محکمې سره د استیناف غوښتنه وکړئ، ترڅو د ردولو بیاکتنې غوښتنه وکړئ.

- که تاسو د منفي پریکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه ونکړئ، یا ستاسو استیناف رد شي، تاسو باید له کروشیا څخه ووځئ. که چېرې تاسو له کروشیا څخه ونه وځئ، نو ښايي د غیر قانوني اوسېدنې له امله ونیول شئ او «د بهرنیو وګړو لپاره د استوګنې په مرکز» کې وساتل شئ چې له هغې ځایه به له کروشیا څخه دیپورټ (وویستل) شئ.

**احتیاط وکړئ، د استیناف غوښتنې نېټه ځینې وختونه لنډه وي، نو سمدلاسه عمل وکړئ او د قانوني مرستې په لټه کې شئ.**

## په هغه صورت کې څخه کېږي چې ماته نړیوال خوندیتوب راکړل شي؟

- تاسو ته به په کروشیا کې د ژوند کولو امکان درکړل شي او تاسو به نور حقونه ترلاسه کړئ.
- دا حقونه د دندې، روغتیایي پاملرنې، زده کړې او د ورځني ژوند د ډېری نورو برخو اړوند دي.



**که تاسو ته نړیوال خوندیتوب (پناه یا فرعي خوندیتوب) درکړل شي، تاسو ته به ستاسو د حقونو او مکلفیتونو په اړه نور مفصل معلوماتاو همدارنګه د کورنیو چارو وزارت د ادغام مامور لخوا په کروشیا کې د ژوند په اړه مهمو معلومات تشریح کولو کتابچه درکړل شي.**



# چېرته د نورې مرستې غوښتنه کولی شم؟

UNHCR (د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر)
Heinzelova ٤٤, Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰۱)۳۷-۱۳-۵۵۵
ویب پاڼه:
https://help.unhcr.org/croatia/
برېښنالیک: HRVZA@unhcr.org

HRVATSKI PRAVNI CENTAR
(د کروشیا قانوني مرکز)
Bednjanska ٨a, Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰۱) ۴۸-۷۳-۹۶۵
ویب پاڼه:www.hpc.hr/
برېښنالیک:hpc@hpc.hr

HRVATSKI CRVENI KRIŽ
(د کروشیا سور صلیب ټولنه)
Ulica Crvenog križa ١٤/١, Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰۱) ۴۶-۵۵-۸۱۴
ویب پاڼه:www.hck.hr/
برېښنالیک:migracije@hck.hr

CENTAR ZA MIROVNE STUDIJE
(د سولې د زده کړو مرکز)
Selska cesta ١١٢a, Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰۱) ۴۸-۲۰-۰۹۴؛
(۰۰۳۸۵) (۰) ۹۱-۳۳۰-۰۱۸۳
ویب پاڼه:www.cms.hr/
برېښنالیک:cms@cms.hr

PRAVNA KLINIKA PRAVNOG FAKULTETA U ZAGREBU
(د ZAGREB پوهنتون د حقوقو پوهنځي د حقوقو کلینیک)
Palmotićeva ulica ٣٠, Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰۱) ۴۸-۱۱-۳۱۱؛
(۰۰۳۸۵) (۰۱)۴۸-۱۱-۳۲۰؛ (۰۰۳۸۵)
(۰۱)۴۸-۱۱-۳۲۴
ویب پاڼه: klinika.pravo.hr
برېښنالیک:klinika@pravo.hr

ISUSOVAČKA SLUŽBA ZA IZBJEGLICE
(JESUIT د کډوالو خدمت)
Maksimirska cesta ٢٨٦, ١٠٠٠٠ Zagreb
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۰)۹۸-۹۷۹-۲۲۹۸
ویب پاڼه: hrv.jrs.net
برېښنالیک:info@jrs.hr

PROJEKT GRAĐANSKIH PRAVA SISAK/CIVIL RIGHTS PROJECT SISAK (PGP/CRP SISAK)
S. i A. Radića ٦/٥ (٢. floor right),
٤٤٠٠٠ Sisak
ټلیفون: (۰۰۳۸۵) (۴۴)۵۷۱ ۷۵۲
Besplatni ټلیفون/قانوني وړیا ټلیفون:
۰۸۰۰ ۲۰۰ ۰۹۸
ویب پاڼه:www.crpsisak.hr/
برېښنالیک:sisak@crpsisak.hr

پولې: هیڅ
Josipa Seissla ٦٨, ١٠٠٠٠ Zagreb
د واټسپ شمېره: (۰۰۳۸۵) (۰)۹۷ ۶۴۶ ۳۸۱۹
ویب پاڼه:
https://www.facebook.com/bordersnone/
برېښنالیک:hello@bordersnone.com

د مرستې او ملاتړ په اړه نور معلومات د استوګنې په

دا معلوماتي پاڼه د «قانوني مرستې او په کروشیا کې د پناه غوښتنې ساحې ته د لاسرسي لپاره د ظرفیت لوړولو» پروژې د یوې برخې په توګه جوړه شوې چې د UNHCR لخوا تمویلېږي.